Social Science AcademicJournal

لېد د ټولنيزو علومو علمي مجله

LSSAJ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# عرف د شرعي دليل په حيث

**عبدالرحمن اڅکزی[*١]، پوهندوی عبدالوهاب طیب[٢]، نوماند پوهنیار احمدنور منتظر[٣]**

[*١] د کندهار پوهنتون، شرعیات پوهنځی، د اسلامي تعلیمات برنامې د ماسترۍ برنامې محصل

[٢] فقه او قانون څانګه، شرعیات پوهنځی، کندهار پوهنتون، کندهار، افغانستان

[٣] حقوق څانګه، حقوق او سیاسي علوم پوهنځی، ملالی پوهنتون، کندهار، افغانستان

د مسؤل بريښناليک: lawyerabdullrahman@gmail.com

ترلاسه سوي: ۱۴۰۵/۰۳/۲۲ | منل سوي: ۱۴۰۵/۰۴/۲۸ | خپره سوي: ۱۴۰۵/۰۶/۳۱ | د ثبت ګڼه: LSSAJ-3-1-16 | مخونه: ۱۶۵-۱۸۵

**لنډيز**

عرف د انسانانو د افعالو، اقوالو او تعاملاتو د دوامداره تکرار له امله رامنځته کېږي او د ټولنې د منل سوي ټولنيز او حقوقي اصل حيثيت لري. اسلامي شريعت عرف د فرعي شرعي دلايلو له جملې څخه ګڼلی او هغه عرفونه يې معتبر بللي چې د شريعت، عقل او عدالت مخالف نه وي. د دې څېړني موخه د عرف د مفهوم تشريح، له عادت سره يې د توپير بيان، د اعتبار د شرايطو روښانه کول، او د اسلامي شريعت په رڼا کې د هغه د شرعي حيثيت او تطبيقي ارزښت څرګندول دي. څېړنه د تحليلي ـ توصيفي منهج پر بنسټ ترسره سوې او د قرآن کريم، نبوي سنتو، اصول الفقه قواعدو او فقهي سرچينو پر بنسټ ولاړه ده. پايلې څرګندوي چې عرف د اسلامي فقهې د انعطاف، د شرعي احکامو د تطبيق، او د ټولنيز نظم او عدالت د تأمين لپاره مهم اصل دی. له همدې امله، د مشروع عرف رعايت او د فاسدو رواجونو څخه تفکيک د معاصري اسلامي ټولنې لپاره ضروري ګڼل کېږي، ترڅو د شرعي احکامو د سم تطبيق او د ټولنيزو اړتياوو ترمنځ توازن وساتل سي.

**کليدي کلمې:** احکام، شرعي دليل، عادات، عرف، فقهي قواعد

# العُرف باعتباره دليلاً شرعياً

**عبدالرحمن اڅکزی[*١]، پوهندوی عبدالوهاب طیب[٢]، نوماند پوهنیار احمدنور منتظر[٣]**

[*١] جامعة قندهار، كلية الشريعة، طالب في برنامج الماجستير في برنامج التعليم الإسلامي

[٢] قسم الفقه والقانون، كلية الشريعة، جامعة قندهار، قندهار، أفغانستان

[٣] قسم الحقوق، كلية الحقوق والعلوم السياسية، جامعة ملالي، قندهار، أفغانستان

Email: lawyerabdullrahman@gmail.com

**المخلص**

ينشأ العُرف نتيجة التكرار المستمر لأفعال الناس وأقوالهم وتفاعلاتهم، ويُعد أصلاً اجتماعياً وقانونياً متعارفاً عليه في المجتمع. وقد اعتبر الشريعة الإسلامية العُرف من الأدلة الشرعية التبعية، وأقرت من الأعراف ما لم يكن مخالفاً للشريعة والعقل والعدل. وتهدف هذه الدراسة إلى بيان مفهوم العُرف، وتوضيح الفرق بينه وبين العادة، وبيان شروط اعتباره، وإبراز مكانته الشرعية وقيمته التطبيقية في ضوء الشريعة الإسلامية. وقد أُجريت الدراسة وفق المنهج الوصفي ـ التحليلي، واستندت إلى القرآن الكريم، والسنة النبوية، وقواعد أصول الفقه، والمصادر الفقهية. وتُظهر نتائج الدراسة أن العُرف يُعد أصلاً مهماً في مرونة الفقه الإسلامي، وتطبيق الأحكام الشرعية، وتحقيق النظام الاجتماعي والعدل. ومن ثم، فإن مراعاة العُرف المشروع، والتمييز بينه وبين العادات الفاسدة، يُعد أمراً ضرورياً للمجتمع الإسلامي المعاصر، بما يحقق التوازن بين التطبيق الصحيح للأحكام الشرعية ومتطلبات المجتمع وحاجاته المتجددة.

**الكلمات المفتاحية:** لأحكام، الدليل الشرعي، العادات، العُرف، القواعد الفقهية.

## سریزه

الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ، وَالصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلَى رَسُولِهِ مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِينَ!.
اسلامي شريعت د انسان د ژوند د ټولو برخو لپاره بشپړ او هر اړخيز نظام دی، چې د انسان د فردي او ټولنيز ژوند د تنظيم لپاره واضح اصول، قواعد او احکام لري. د همدې شريعت له مهمو ځانګړنو څخه يوه دا ده چې د خلکو مشروع عرفونو او عاداتو ته يې اعتبار ورکړی او په ډېرو مواردو کې يې د شرعي احکامو د تطبيق او استنباط بنسټ ګرځولي دي. انسان په خپل طبيعت کې ټولنيز مخلوق دی او نه سي کولای چې منزوي ژوند وکړي؛ ځکه د ژوند د اړتياوو د پوره کولو لپاره د نورو انسانانو له مرستي، تعامل او اړيکو سره اړتيا لري. د همدې تعاملاتو په پايله کې ځيني اقوال، افعال او معاملات د خلکو ترمنځ په دوامداره او متکرر ډول رواج مومي، چې وروسته د عرف او عادت بڼه غوره کوي او خلک يې د يو منل سوي اصل او قاعدې په توګه عملي کوي.

عرف او عادات د خلکو د ژوند، معاملاتو او ټولنيزو اړيکو نه بېلېدونکي برخه ده، له همدې امله اسلامي شريعت هم هغو عرفونو ته اعتبار ورکړی چې د شريعت له نصوصو سره په ټکر کې نه وي. الله ﷻ فرمايي: وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ (البقرة: ۲۳۳). ژباړه: مورګاني به خپلو اولادونو ته پوره دوه کاله شيدې ورکوي، که دوی وغواړي چې د شيدو ورکولو موده بشپړه کړي، او پر هغه چا چې اولاد د هغه لپاره زيږول سوی دی، د دې ښځي نفقه او لباس په معروفه (نيکه او مروجه) طريقه واجب دی. په دغه آيت کريمه کې د «بالمعروف» لفظ د دې څرګندونه کوي چې اسلامي شريعت په هغو چارو کې چې صريح شرعي اندازه نه وي ټاکل سوې، د خلکو مشروع عرف او رواج ته اعتبار ورکوي.

همداراز الله ﷻ فرمايي: خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ (الأعراف: ۱۹۹). ژباړه: عفوه وکړه، په نيکيو او عرف سره امر وکړه او له جاهلانو څخه مخ واړوه. د عرف اهميت تر دې اندازې دی چې فقهاوو هغه د اسلامي شريعت له فرعي دلايلو څخه شمېرلی او د فتوی، قضا، تقنين او د احکامو د استنباط په ډګرونو کې يې معتبر اصل بللی دی. ځکه د زمان، مکان او حالاتو په بدلېدو سره د خلکو اړتياوي او تعاملات هم تغير مومي، نو اسلامي شريعت د خپل انعطاف او جامعيت له مخې مشروع عرف ته ځای ورکړی، ترڅو د خلکو مصالح تأمين او له هغوی څخه مشقت دفع سي.

دغه علمي مقاله د "عرف د شرعي دليل په حيث" تر سرليک لاندي ترتيب سوې ده، ترڅو دا روښانه کړي چې عرف څه شی دی؟ د اسلامي شريعت له نظره د هغه شرعي حيثيت څه دی؟ د مشروعيت دلايل، شرايط او اقسام يې کوم دي؟ او د شرعي احکامو په استنباط او تغير کې څه رول لري؟ همداراز، په دې مقاله کې هڅه سوې ده چې د قرآن کريم، نبوي سنتو، فقهي قواعدو او د اصول الفقه د معتبرو مراجعو په رڼا کې د عرف حقيقت او فقهي ارزښت په علمي او تحليلي ډول وڅېړل سي.

### د څېړني ستونزه

سره له دې چې عرف د اسلامي شريعت له مهمو فرعي دلايلو څخه دی او د فقهي احکامو، فتوی او قضا په برخه کې مهم رول لري، خو په پښتو ژبه کې د هغه د شرعي حيثيت او د احکامو په تطبيق او تغير کې يې د رول اړوند تر

اوسه کومه جامع او تحلیلي څېړنه نه ده ترسره سوې. همداراز، په معاصره ټولنه کې د ناسمو عرفونو پراختیا، د مشروع او فاسد عرف ترمنځ د توپیر نشتون، او د عرف تر نامه لاندې د ځینو ناروا رواجونو دوام د دې موضوع علمي ارزښت لا زیات کړی دی. له بلې خوا، د زمان او مکان له بدلون سره نوي عرفونه او تعاملات رامنځته کېږي چې د هغوی د شرعي حیثیت ټاکل یوه مهمه فقهي اړتیا ده. په پښتو ژبه کې د دې موضوع د مستندو او تحلیلي لیکنو کموالی دا اړتیا رامنځته کوي چې د عرف د شرعي دلیل حیثیت، د مشروعیت دلایل، شرایط، فقهي ارزښت او د احکامو په تغیر کې د هغه رول د معتبرو سرچینو په رڼا کې په علمي او منظم ډول وڅېړل سي.

## د څېړني اهمیت

عرف او عادات د انسانانو د اقوالو، افعالو او تعاملاتو د دوامداره تکرار له امله رامنځ ته کېږي، او هره ټولنه د خپلو ځانګړو عرفونو او رواجونو لرونکې وي. د ټولني افراد دغه عرفونه د یو منل سوي اصل او ټولنیز معیار په توګه عملي کوي او په خپلو ورځنیو اړیکو او معاملاتو کي ځانګړی اهمیت ورکوي. دا اهمیت تر دې اندازې دی چې اسلامي شریعت هم هغو ته د یوې فرعي او اختلافي سرچیني (دلیل) په حیث اعتبار ورکړی او سالم عرف یې د ځینو شرعي احکامو د استنباط، تطبیق او تغیر بنسټ ګرځولی دی. اسلامي شریعت له یوه پلوه یو کامل، شامل او هر اړخیز الهي نظام دی چې د انسان د ژوند د ټولو برخو لپاره لازم احکام او لارښووني لري. الله ﷻ فرمایي: الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ (المائدة: ۳). ژباړه: نن ورځ ما ستاسو دین بشپړ کړ. خو له بل پلوه، اسلامي شریعت د خلکو مشروع عرفونه او عادات هم په رسمیت پېژندلي او په هغو چارو کې چې صریح شرعي نص نه وي موجود، د عرف رعایت یې معتبر اصل بللی دی. ځکه همدا عرف او عادات دي چې د اسلامي شریعت د ځینو اجتهادي احکامو په تغیر، تطبیق او تفصیل کې مهم رول لري او د نویو پېښو او ټولنیزو ستونزو د حل لپاره استفاده څني کېږي.

د عرف اهمیت یوازې تر فقهي او حقوقي اړخه محدود نه دی، بلکې د فتوی، قضا، تقنین، اقتصادي معاملو او ټولنیزو اړیکو په تنظیم کې هم ژور اغېز لري. د «العادة محكمة» او «المعروف عرفاً كالمشروط شرطاً» په څېر فقهي قواعد د دې څرګندونه کوي چې عرف د اسلامي فقهې په نظام کې یو معتبر اصل ګڼل کېږي.

په معاصره ټولنه کې د نوو عرفونو او تعاملاتو رامنځ ته کېدل، د مشروع او فاسد عرف ترمنځ د واضح توپیر نشتون، او د عرف تر نامه لاندې د ځینو ناسمو رواجونو توجیه کول، دا اړتیا لا زیاتوي چې د عرف د شرعي حیثیت، د اعتبار د شرایطو او د فقهي احکامو په استنباط کې د هغه د رول په اړه علمي او تحلیلي څېړنه ترسره سي.

سربېره پر دې، په پښتو ژبه کې د «عرف د شرعي دلیل په حیث» تر عنوان لاندې د مستندو، هر اړخیزو او علمي لیکنو کموالی هم د دې سبب ګرځي چې په دې موضوع کې یوه ځانګړې څېړنه ترسره سي، ترڅو د اسلامي شریعت په رڼا کې د عرف ماهیت، اهمیت، حدود او فقهي ارزښت په واضح ډول وڅېړل سي او اړوند علمي معلومات د یوې منظمې علمي لیکنې په بڼه ټولني ته وړاندې سي.

## د څېړني موخه

د دې څېړني موخه دا ده چې د قرآن کریم، نبوي سنتو او د فقهي قواعدو په رڼا کې د عرف د شرعي دلیل حیثیت، د هغه د مشروعیت دلایل، د اعتبار شرایط او د شرعي احکامو په استنباط، تطبیق او تغیر کې د هغه رول وڅېړل سي.

**د څېړني پوښتنه**

د قرآن کريم، نبوي سنتو او فقهي قواعدو په رڼا کې عرف په کومو شرايطو د شرعي دليل حيثيت لري او د شرعي احکامو په استنباط، تطبيق او تغير کې څه رول لوبوي؟

**پخوانيو آثارو ته کتنه**

که څه هم د اسلامي شريعت له نظره د عرف د شرعي دليل حيثيت او د هغه فقهي ارزښت د ګڼ شمېر اصولي او فقهي مراجعو له لوري تر بحث لاندې نيول سوی، خو بيا هم د عرف د شرعي حجيت، د اعتبار د شرايطو او د شرعي احکامو په استنباط او تغير کې د هغه د رول په اړه لا تر اوسه بشپړ، منظم او تحليلي بحث نه دی سوی. د پخوانيو آثارو له مطالعې څخه څرګندېږي چې په دې برخه کې يو شمېر علمي تشې او ستونزې موجودې دي چې لا نورو څېړنو ته اړتيا لري.

(الزحيلي، بې تا) په الفقه الإسلامي وأدلته کې د عرف تعريف، اقسام او د هغه د مشروعيت دلايل په پراخه توګه بيان کړي دي، چې د موضوع د بنسټيزي پېژندني لپاره ارزښتناک اثر ګڼل کېږي؛ خو د عرف د شرعي دليل په حيث يې د معاصرو فقهي او حقوقي قضيو تطبيقي تحليل او د نوو عرفونو شرعي ارزونه په تفصيلي ډول نه ده وړاندې کړې. (الشامي، بې تا) د عرف د اعتبار او د احکامو د تغير په هکله مهم اصول ذکر کړي، خو د دغو اصولو عملي تطبيقات او د معاصرو ټولنيزو اړتياوو سره يې اړيکه په منظم او تحليلي ډول نه ده ارزولې. (قانت، ۱۳۹۵ل) د اصول فقه په چوکاټ کې عرف د فرعي دليل په توګه ياد کړی، خو د عرف د شرعي حجيت د حدودو، شرايطو او فقهي اغېزو په اړه يې نسبتاً لنډ او اجمالي بحث کړی، چې د موضوع ټول اړخونه نه رانغاړي.

همداراز، (الکوزي او شمس صافي، ۱۳۹۵ل) د تعاملي حقوقو په برخه کې د عرف حقوقي او ټولنيز اهميت بيان کړی، خو د شرعي احکامو په استنباط، اجتهاد او فتوی کې يې د عرف د فقهي نقش ژوره څېړنه نه ده کړې. (فايق، ۱۳۹۹ل) او (واثق دراني، ۱۳۹۵ل) د حقوقو او فقهي مباديو په ضمن کې د عرف مفهوم او اهميت ته اشاره کړې، خو د عرف د شرعي دليل حيثيت يې په مستقل او تخصصي ډول نه دی څېړلی او د معاصرو عرفونو د شرعي ارزوني اړخونه يې له پامه غورځولي دي. (ظريفي، ۱۳۹۰ل) د عرف او د احکامو د تغير ترمنځ اړيکه تر بحث لاندې نيولې، خو د عرف د فقهي قواعدو، د هغوی د تطبيق او د معاصرو بېلګو جامع او انتقادي تحليل يې نه دی وړاندې کړی.

د عرف د پېژندني او شرعي مفهوم په اړه د فقهاوو او اصوليينو ترمنځ تعبيرونه متفاوت دي، خو عمومي مفهوم يې د خلکو هغه رواجونه او تعاملات دي چې په دوامداره توګه د ټولني په ژوند کې عملي کېږي. (الزحيلي، بې تا) عرف هغه څه بللي چې خلک ورباندې عادت سوي وي او په خپلو اقوالو او افعالو کې يې عملي کوي. (قانت، ۱۳۹۵ل) عرف د شريعت له مرستندويه دلايلو څخه ګڼلی او ټينګار يې کړی چې د قرآن او سنتو د مخالفت په صورت کې اعتبار نه لري. (فايق، ۱۳۹۹ل) هم په دې نظر دی چې عرف د فقهي احکامو د تطبيق او د موضوعاتو د وضاحت لپاره مهم اصل دی. سره له دې، د دغو تعريفونو ترمنځ د مشترکو او متفاوتو اړخونو مقايسوي او انتقادي تحليل په ډېرو آثارو کې نه تر سترګو کېږي.

عرف د اصول فقه او فقهي قواعدو په کتابونو کې د يوه معتبر فرعي دليل په توګه منل شوی دی. (قانت، ۱۳۹۵ل)، (الزحيلي، بې تا) او (الشامي، بې تا) عرف د فتوی، قضا او اجتهاد په ډګرونو کې مهم اصل بللی دی. د مجلة الأحكام العدليې ګڼ شمېر فقهي قواعد هم د عرف پر اعتبار ولاړ دي؛ لکه: «العادة محكمة» او «المعروف عرفاً كالمشروط شرطاً». (ظهير، ۱۴۴۰هـ) او (احمد الطاهر، بې تا) د اصول الافتاء په برخه کې عرف د فتوی د صحيح تطبيق مهم معيار ګڼلی دی. خو په ډېری دغو آثارو کې دا نه ده روښانه سوې چې دغه قواعد د معاصرو اقتصادي، مالي او ټولنيزو تعاملاتو په اړه څنګه عملي کېدای سي.

د عرف او د شريعت د انعطاف ترمنځ اړيکه هم د ګڼ شمېر فقهاوو له لوري څېړل سوې ده. (الشامي، بې تا) او (القرافي، بې تا) ټينګار کړی چې هغه احکام چې پر عرف ولاړ وي، د عرف په تغير سره تغير مومي. (الکوزي او شمس صافي، ۱۳۹۵ل) هم د تعاملي حقوقو په نظام کې عرف د مدني او اقتصادي معاملو د تنظيم لپاره مهم اصل بللی دی. خو د معاصرو عرفونو د بدلون او د هغو د شرعي حيثيت د حدودو د ارزونې لپاره واضح او منظم معيارونه په کافي اندازه نه دي تشريح سوي.

د عرف د شرعي حجيت، حدودو او شرايطو په اړه هم فقهاوو مهم اصول بيان کړي دي. (الزحيلي، بې تا)، (قانت، ۱۳۹۵ل) او (واثق دراني، ۱۳۹۵ل) په دې ټينګار کوي چې عرف بايد د قرآن، سنت او اجماع مخالف نه وي، عام او مستمر وي او د خلکو ترمنځ د قبول وړ وي. همدارنګه، دوی خبرداری ورکوي چې فاسد رفونه؛ لکه سود، بدې، شغار نکاح او د ښځو له ميراث څخه محروملول، د شريعت له نظره اعتبار نه لري، که څه هم د خلکو ترمنځ رواج ولري. سره له دې، په ډېری آثارو کې د دغو شرايطو د عملي تطبيق او د معاصرو ټولنيزو عرفونو د ارزونې لپاره کافي بېلګې او تحليلي بحث نه تر سترګو کيږي.

بناءً، ويلای سو چې که څه هم د عرف د شرعي دليل حيثيت او فقهي ارزښت په فقهي او اصولي آثارو کې څېړل سوی، خو په پښتو ژبه کې لا تر اوسه په دې اړه جامع او تحليلي څېړنه نه ده ترسره سوې. همدارنګه، د ناسمو عرفونو پراختيا او د نوو ټولنيزو تعاملاتو رامنځته کېدل د دې موضوع څېړنه اړينه کوي، ترڅو د عرف شرعي حيثيت، شرايط، فقهي ارزښت او د احکامو د تطبيق او تغير کې د هغه رول د معتبرو سرچينو پر بنسټ روښانه سي.

## مواد او کړنلاره

**د څېړني ډول او مېتود:** دا علمي څېړنيزه مقاله د «عرف د شرعي دليل په حيث» تر عنوان لاندي ترتيب سوې ده او د توصيفي او تحليلي مېتود پر بنسټ ليکل سوې ده. څرنګه چې د څېړني موضوع فقهي، اصولي او شرعي اړخونه لري، نو احصائيوي مېتود ورته مناسب نه و؛ بلکي د موضوع د دقيق فهم او علمي تحليل لپاره کيفي مېتود غوره وبلل سو، ترڅو د اسلامي شريعت له نظره د عرف د شرعي حيثيت، د اعتبار د شرايطو، د فقهي قواعدو او د شرعي احکامو په استنباط او تغير کې د هغه د رول څرنګوالی په واضح او مستند ډول وڅېړل سي.

**د معلوماتو راټولولو طريقه:** د دې څېړني معلومات د کتابتوني مېتود له لاري را ټول سوي دي، چې پکي له قرآن کريم، نبوي احاديثو، د اصول فقه، فقهي قواعدو او اسلامي حقوقو له معتبرو کتابونو

څخه استفاده سوې ده. همداراز، د پخوانيو او معاصرو علماوو او ليکوالانو له علمي آثارو؛ لکه: «فقه قواعدو»، «الفقه الإسلامي وأدلته»، «الوجيز في اصول الفقه»، «مجلة الأحكام العدلية»، «مجموعة الرسائل»، «اصول فقه»، «تعاملي حقوق» او نورو معتبرو مراجعو څخه استفاده سوې ده.

د قرآني آيتونو د تفسير او وضاحت لپاره له معتبرو تفسيري منابعو، او د نبوي احاديثو لپاره له کتب سته او نورو حديثي مراجعو څخه استفاده سوې ده. همداراز، د عرف اړوند فقهي قواعد، د فقهاوو نظريات او د معاصر وخت علمي ليکني هم تر مطالعې او تحليل لاندي نيول سوي دي.

**د معلوماتو تحليل:** د معلوماتو د تحليل لپاره يو منظم او مرحلېز بهير تعقيب سوی دی. په لومړي پړاو کي د عرف لغوي او اصطلاحي مفهوم، اقسام او د هغه د شرعي حيثيت اړوند معلومات را ټول او طبقه‌بندي سوي دي. په دويم پړاو کي د عرف د مشروعيت دلايل د قرآن کريم، نبوي سنتو او فقهي قواعدو په رڼا کي تحليل سوي دي. په دريم پړاو کي د عرف د اعتبار شرايط، د مشروع او فاسد عرف ترمنځ توپير، او د شرعي احکامو په استنباط او تغير کي د عرف رول تر څېړني لاندي نيول سوی دی. په څلورم پړاو کي د عرف اړوند فقهي قواعد او عملي تطبيقات د معاصر ټولنيز ژوند له اړتياوو سره پرتله او تحليل سوي دي.

**د څېړني حقوق او اخلاق:** دا څېړنه د علمي امانتدارۍ، رښتينولۍ او بې‌طرفۍ پر بنسټ ترسره سوې ده. ټول قرآني آيتونه، نبوي احاديث، فقهي اقوال او نور علمي مطالب له اصلي او معتبرو منابعو څخه اخيستل سوي او دقيق حوالې ورته ورکړل سوي دي. د علماوو د نظرياتو په نقل او تحليل کي له تحريف، مبالغې او ناسم تعبير څخه ډډه سوې ده. همداراز، د څېړونکي شخصي تمايلات او تعصبات تر ممکنه حده کنټرول سوي او د څېړني پايلي د را ټول سوو معلوماتو او علمي تحليل پر بنسټ وړاندي سوي دي.

### د څېړني موندني

موندني د علمي څېړنو يوه بنسټيزه برخه ده، ځکه دا هغه پايلي دي چي د څېړونکي له لوري د علمي مسئلې د تحليل، نقد او ارزوني پر بنسټ استنباط کيږي، او د کارول سوو علمي منهجونو، معتبرو مأخذونو او شرعي نصوصو انعکاس ښرګندوي. په دې مقاله کي د «عرف د شرعي دليل په حيث» موضوع په علمي او تحقيقي ډول څېړل سوې ده، ترڅو د عرف مفهوم، اقسام، شرعي حيثيت، د اعتبار شرايط او د فقهي احکامو په استنباط او تغير کي د هغه رول د قرآن کريم، نبوي سنتو او د اسلامي فقهې د اصولو په رڼا کي واضح او مستند بيان سي، او د مشروع او فاسد عرف ترمنځ توپير او د اسلامي شريعت له مقاصدو سره د عرف د اړيکي حقيقت روښانه کړل سي.

### الف: د شرعي دليل پېژندنه

دليل په لغت کي «هو المرشد، وما يُستدلُّ به، وما يُهتدى به إلى الشيء» (ابن منظور، ۱۴۱۴هق. جـ ۱۱، مخ ۲۴۹، ماده (دلل). يعني: هغه څه ته ويل کيږي چي په وسيله يې پر يو شي استدلال کيږي، او دليل د لارښوونکي او لارښود په معنا هم راځي. همداراز، « المرشد، وما يُستدلُّ به» (الفيروز آبادي، ۱۴۲۶هـق. صـ۱۰۲۸). يعني: لارښوونکی او

هغه څه دی چې په وسیله یې استدلال کیږي. د دې ترڅنګ، «ما يُهتدى به إلى الشيء، وحُجَّة يُستدلُّ بها» (مجمع اللغة العربية بالقاهره، ۱۴۲۵هـق. جـ۱، صـ۲۹۴، ماده (دلل). یعني: هغه څه دي چې د هغه په وسیله مطلوب شي ته لار موندل کیږي، او هغه حجت چې په وسیله یې استدلال کیږي.

په اصطلاح کې «الدليل الشرعي: ما يمكن التوصل بصحيح النظر فيه إلى حكم شرعي عملي» (الفتوحي، ۱۴۱۸هق. جـ۱، مخ ۱۲۵). یعني: شرعي دلیل هغه معتبره سرچینه ده چې د صحیح اجتهاد او نظر له لارې د عملي شرعي حکم ترلاسه کول پرې ممکن وي. په بل عبارت؛ دلیل هغه څه ته ویل کیږي چې د صحیح فکر، نظر او استدلال په وسیله انسان یوې مطلوبې او معلومې نتیجې ته ورسوي. (الزحیلي، ۱۴۰۱ل. ۱۲۲مخ). د بېلګې په توګه د نړۍ حادثوالی یو دلیل دی، ځکه کله چې انسان د عالم په احوالو کې غور او فکر وکړي او د تغیر، فنا او زوال نښې پکښې ووېني، نو دې نتیجې ته رسیږي چې نړۍ حادثه او مخلوقه ده. همداراز، د لمانځه د فرضیت دلیل د الله ﷻ دا قول دی: وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ (البقرة:۴۳). ژباړه: او لمونځ قائم کړئ. کله چې دلته اصولي او فقهي نظر وسي، نو څرګندیږي چې دا امریه جمله ده او امر په اصل کې د وجوب او فرضیت معنا افاده کوي، نو له همدې امله د لمانځه فرضیت ثابتیږي. بناءً، هم د عالم احوال او هم د (وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ) نص د دلیل په توګه ګڼل کیږي.

یا هم په بل عبارت؛ هر هغه څه چې له هغه څخه شرعي حکم استنباط او افاده کیږي، شرعي دلیل بلل کیږي، که هغه حکم په قطعي ډول ثابتیږي او که په ظني ډول. له همدې امله دلایل د دلالت له پلوه په دوو برخو وېشل کیږي: قطعي دلایل او ظني دلایل. (هماغه الزحیلي، ۱۲۲مخ).

د اصولیینو په نزد شرعي دلایل په عمومي ډول په دوو برخو تقسیم سوي دي: اتفاقي دلایل او اختلافي دلایل. اتفاقي دلایل هغه دي چې جمهور علماوو ورباندې اتفاق کړی او عبارت دي له: قرآن کریم، سنت، اجماع او قیاس څخه. اما اختلافي دلایل هغه دي چې د علماوو ترمنځ پکښې اختلاف موجود دی، چې مشهور یې استحسان، مصالح مرسله، استصلاح، استصحاب، عرف، د صحابي مذهب، تر موږ مخکې شریعت او سد الذرائع دي. (هماغه الزحیلي، ۱۲۲مخ).

اتفاقي دلایل د ټولو په اتفاق واجب الاتباع دي، خو د استدلال له پلوه ترتیب لري. تر ټولو لومړی قرآن کریم، بیا سنت، وروسته اجماع او تر هغه وروسته قیاس راځي. د دې ترتیب او د دغو دلایلو د حجیت لپاره الله ﷻ فرمایي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ (النساء: ۵۹). ژباړه: ای مؤمنانو! د الله اطاعت وکړئ، د رسول اطاعت وکړئ او د امر د خاوندانو اطاعت وکړئ، او که په کوم شي کې چې مو اختلاف وکړ، نو هغه الله ﷻ او رسول ﷺ ته ور وګرځوئ.

په دې آیت کې د الله ﷻ اطاعت د قرآن کریم د اتباع، د رسول الله ﷺ اطاعت د سنتو د پیروی، او د اولی الامر اطاعت د علماوو او مجتهدینو د اجماعي فیصلو د اتباعو دلیل ګڼل کیږي. همداراز، د اختلاف پر مهال د الله ﷻ او رسول ﷺ لوري ته رجوع کول د قیاس او اجتهاد مشروعیت هم ثابتوي، په هغه مواردو کې چې صریح نص او اجماع شتون ونه لري.

د شرعي دلايلو د ترتيب په اړه د معاذ بن جبل رضي الله عنه مشهور حديث هم د علماوو له مهمو دلايلو څخه شمېرل کيږي. عَنْ مُعَاذٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ حِينَ بَعَثَهُ إِلَى الْيَمَنِ فَذَكَرَ: «كَيْفَ تَقْضِي إِنْ عَرَضَ لَكَ قَضَاءٌ؟» قَالَ: أَقْضِي بِكِتَابِ اللَّهِ. قَالَ: «فَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِي كِتَابِ اللَّهِ؟» قَالَ: فَبِسُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ قَالَ: «فَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِي سُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ؟» قَالَ: أَجْتَهِدُ رَأْيِي وَلَا آلُو. قَالَ: فَضَرَبَ صَدْرِي فَقَالَ: «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي وَفَّقَ رَسُولَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَا يُرْضِي رَسُولَهُ» (مسند أحمد مخرجا، جـ٣٦، مخ٤١٧). ژباړه: «کله چې تا ته کومه قضيه را وړاندې سي، څنګه به پرېکړه کوې؟» هغه وويل: «د الله ﷻ په کتاب به پرېکړه کوم». رسول الله ﷺ وفرمايل: «که دې په کتاب الله کې حل ونه مومند؟» وېې ويل: «د رسول الله ﷺ په سنتو به پرېکړه کوم». رسول الله ﷺ وفرمايل: «که دې په سنتو کې هم حل ونه مومند؟» هغه وويل: «بيا به په خپل اجتهاد سره رأيه ورکوم او کوتاهي به نه کوم». نو رسول الله ﷺ د هغه سينه ووهله او وېې فرمايل: «ټوله ستاينه هغه الله لره ده چې د خپل رسول استازي ته يې د هغه څه توفيق ورکړ چې د الله رسول پرې راضي کيږي».

همداراز، د ابوبکر صديق رضي الله عنه او عمر فاروق رضي الله عنه د قضاوت طريقه هم د شرعي دلايلو د ترتيب څرګندونه کوي. هغوی به لومړی د الله ﷻ په کتاب کې د مسئلې حل لټاوه، که به يې ونه موند، نو د رسول الله ﷺ سنتو ته به يې مراجعه کوله، او که هلته به هم حل نه و، نو له صحابه وو سره به يې مشوره کوله او د اجماع او اجتهاد له لارې به يې پرېکړه ترسره کوله. د صحابه وو د دې عمل پر مشروعيت د نورو صحابه وو سکوت او موافقه د اجماع حيثيت لري.

شرعي دلايل له بل پلوه په نقلي او عقلي دلايلو هم وېشل کيږي. نقلي دلايل عبارت دي له: قرآن کريم، سنت، اجماع، عرف، د صحابي مذهب او تر موږ مخکې شريعت. اما عقلي دلايل عبارت دي له: قياس، مصالح مرسله، استحسان، استصحاب او سد الذرائع. دواړه ډوله دلايل يو بل ته اړتيا لري؛ ځکه عقلي اجتهاد هغه وخت معتبر ګڼل کيږي چې پر نقلي اساس ولاړ وي، او نقلي دلايل هم د فهم، تحليل او استنباط لپاره عقل ته اړتيا لري.

ځيني دلايل په خپله مستقل اصول دي، لکه: قرآن، سنت او اجماع، چې د حکم د اثبات لپاره بل اصل ته اړتيا نه لري. همداراز، استحسان، عرف او د صحابي مذهب هم د همدې مستقلو دلايلو تابع ګڼل کيږي. خو قياس مستقل اصل نه دی؛ ځکه د قياس د صحيح تطبيق لپاره په کتاب، سنت يا اجماع کې اصل ته اړتيا وي، او همداراز د علت پېژندنه پکښې ضروري ده، ترڅو د مقيس او مقيس عليه ترمنځ مناسبت او اشتراک ثابت سي. (هماغه الزحيلي، ۱۲۳ مخ).

د دې ترڅنګ؛ د شرعي دلايلو په اړه د څلورو فقهي مذاهبو (حنفي، مالکي، شافعي او حنبلي) ترمنځ په اساسي دلايلو؛ لکه قرآن کريم، سنت، اجماع او قياس کې عمومي اتفاق موجود دی، او ټول يې د شرعي احکامو د استنباط بنسټيز اصول ګڼي. خو د اختلافي دلايلو؛ لکه استحسان، مصالح مرسله، عرف، استصحاب، سد الذرائع او د صحابي قول په اعتبار او د استعمال په حدودو کې د دوی ترمنځ اختلاف ليدل کيږي. حنفي مذهب د قياس، استحسان او عرف په استعمال کې پراخوالی لري او عرف د معاملو په برخه کې د معتبر دليل په توګه مني. مالکي مذهب بيا د مصالح مرسله، سد الذرائع او عمل اهل مدينې ته ځانګړی اهميت ورکوي او د خلکو د مصالحو رعايت د اجتهاد له

مهمو اصولو څخه ګڼي. شافعي مذهب د قرآن او سنتو پر نصوصو ډېر ټینګار کوي او قیاس د منظم اجتهاد په توګه مني، خو استحسان او مصالح مرسله د مستقلو دلایلو په توګه نه مني. حنبلي مذهب هم د نصوصو او د صحابه وو د اقوالو پیروي ته لومړیتوب ورکوي، خو قیاس، استصحاب او ځیني نور اصول د اړتیا پر مهال مني. (هماغه الزحیلي، ۱۲۳ –۱۲۴ مخونه).

## ب: د عرف پېژندنه

دلته به د عرف لغوي او اصطلاحي تعریف، ارکان، شرایط او ډولونه د بېلا بېلو عناوینو په ترڅ کې تر بحث لاندې ونیسو؛

### ۱- لغوي او اصطلاحي تعریف

عرف د (ع ر ف) له مادې څخه اخیستل سوی، او په لغت کې د پېژندلو، معلوموالي، ښه والي او هغه څه ته وايي چې خلک ورسره اشنا او عادت سوي وي. په لیسان العرب کې داسې تعریف سوی: «العُرْفُ: ما تعارفه الناس وساروا علیه، والعرف: المعروف، وهو ضدُّ النکر» (ابن منظور، ۱۴۱۴هـق. جـ۹، صـ۲۳۹، مادة (عرف).

په اصطلاح کې علماؤو مختلف تعریفونه ورته کړي؛ خو د ټولو موخه او مفهوم یوشان دی چې ځیني یې په لاندې ډول دي:

۱-عرف له هغو قواعدو څخه عبارت دي چې له ټولنیزو کړو وړو څخه استنباط سوي وي او د مقننه قوې له مداخلې پرته یې د حقوقي قواعدو شکل غوره کړي وي(الکوزي او شمس صافي، ۴ –۵ مخونه).

۲-عرف له هغو غیر مدونو قواعدو څخه عبارت دي چې انسانانو په خوښه را منځ ته کړي وي او د قانون په څېر یې تطبیق پر ځان لازم ګڼلي وي(حکمت، ۱۳۹۳ل. ۲۰۷ مخ).

۳- عرف هغو کړنو او وېناوو ته ویل کیږي چې زیاتو خلکو په ټولو او یا ځینو ځایونو کې جوړ کړي وي(قانت، ۱۳۹۳ل. ۱۱۱ مخ).

۴-عرف هغه معقول کارونه دي چې انسانان یې په تکرار روږد سوي وي(تائب، ۱۳۹۶ل. ۸۳ مخ).

۵-عرف له هغو کړو وړو څخه عبارت دي چې د خلکو تر منځ د حق شتون ښیي(حقمل، ۱۳۹۵ل. ۱۰۶ مخ).

٦-عرف هغو مکررو کړونو ته ویل کیږي چې د اوږدې مودې په جریان کې د خلکو د باور وړ ګرځېدلي وي او په معاملاتو کې پیروي ځني کوي(ستانکزي او نور، ۱۳۸۷ل. ۲۰۹ مخ).

۷-عرف هغه څه دی چې خلکو کې عادت وي او هغه په خپلو وینا، کړو او وړو کې عملي کوي(الزحیلي، ۱۳۷۰ل. ۷ جلد، ۴۱٦۴ مخ).

۸-عرف هغه تکرار سوي چارې دي چې په نفسونو کې ځای ونیسي او روغ او فطري عقل یې ومني(هماغه الشامي، ۲ جلد، ۱۱۴ مخ).

۹-یا هم عرف هر هغه څه دي چې خلک وربانديې عادت او اخته سوي وي، او عمل وربانديې کوي، هغه که کوم فعل وي چې د دوی ترمنځ خپور سوي وي او که کوم لفظ خو خلکو دغه لفظ له لغوي معنا څخه پرته په بله خاص

معنا سره استعمال کړی وي، او د دغه لفظ په اورېدلو سره د دوی په ذهن کې د عرفي معنا څخه پرته بله معنا ور ونه ګرځي عبارت له عرف څخه دی. (الزحيلي، ۱۴۰۱ل. ۱۲۲ -۱۲۶ مخونه).

۱۰-همداراز، «العرف: ما استقرَّ في النفوس من جهة العقول، وتلقَّته الطباع السليمة بالقبول» (ابن نجيم، ۱۴۱۹هـق. مخ ۹۳؛ او حيدر، بې تا. جـ۱، مخ ۳۹). يعني: عرف هغه عمل، وينا يا طريقه ده چې د خلکو په نفسونو کې د عقل له مخې ثابته سوې وي او سالمو طبيعتونو په قبول سره منلې وي.

**۲- د عرف ارکان**

د دې لپاره چې عرف د يوې شرعي او حقوقي قاعدې په حيث و منل سي، نو د لاندي دوو ارکانو شتون لازمي دی.

**لومړی - مادي رکن:** د عمل کول يا نه کول به په ټول يا اکثره قلمرو کې د ټولو يا اکثرو خلکو له لوري د پخوا څخه په خپله خوښه انتخاب سوي وي.

**دوهم- معنوي رکن:** د عمل پر کولو يا نه کولو بايد خلک باور او عقيده ولري. له همدې امله د عرف څخه سرغړونکی د معنوي مجازاتو وړ ګڼل کيږي (شمس، ۱۳۹۴ل. ۵۴ مخ).

**۳- د عرف شرايط**

د دې لپاره چې عرف اعتبار پيدا کړي او د حکم بنسټ جوړ سي، نو د اسلامي شريعت له نظره بايد لاندي شرايط ولري:

**الف – عموميت:** عرف بايد عام وي او د ټولني ټول يا اکثريت خلك يې پيروي وکړي. فقهي قاعده داسي صراحت لري: "اِنَّمَاتُعْتَبَرُ الْعَادَةُ اِذَا اطَّرَدَتْ اَوْ غَلَبَتْ" (مجلة الاحكام العدليه، ۱۸۷۶م. ۴۱ ماده). ژباړه: عام او خپور سوي عادت معتبر ګڼل کيږي. همداراز، بله فقهي قاعده داسي صراحت لري: "الْعِبْرَةُ لِلْغَالِبِ الشَّائِعِ لاَ لِلنَّادِرِ" (هماغه، ۴۶ ماده). ژباړه: د نادر په نسبت شايع عرف معتبر دی.

**ب – قدامت:** عرف بايد پخوانی وي او له ډېر وخت څخه تکرار سوی وي. فقهي قاعده داسې صراحت لري: "الْقَدِيمُ يُتْرَكُ عَلَى قِدَمِهِ" (هماغه، ۶ ماده). ژباړه: پخوانی شی پر خپل پخواني حال پرېښودل کيږي (هماغه، شمس، ۱۱ مخ).

**ج –عرف به د عامه نظام مخالف نه وي:** عرف بايد د اسلامي شريعت مخالف نه وي، که نه اعتبار له لاسه ورکوي. لکه: په بدو کې د ښځو ورکول. الله ﷻ فرمائي: "وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ" (الانعام: ۱۶۴) ژباړه: هيڅ شخص د بل چا په بار نه بارېږي. همدا راز بل ځاي فرمايي: "وَلَا تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ" (البقره: ۱۴۱). ژباړه: د دوی داعمالو په هکله ستاسو څخه پوښتنه نه کيږي. يا هم د بدل/ شغار نکاح. رسول الله ﷺ فرمائي: "لاَ شِغَارَ فِي الإِسْلَامِ" (البيهقي، بې تا. ۷ جلد، ۲۰۰ مخ). ژباړه د بدل نکاح په اسلام کې شتون نه لري. يا هم له ميراث څخه د ښځو محروموِل الله ﷻ فرمائي: "لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا" (النساء: ۷). ژباړه: د نارينه وو لپاره هغه برخه ده چې د هغوی والدينو او قريبانو پرېښودې وي او هم د ښځو لپاره هغه برخه ده، چې د هغوی والدينو او قريبانو پرېښودې وي، دا که لږ وي او که زياته، الله ﷻ ټاکلې ده.

**هـ – عرف به د عمل په وخت کي موجود او حکم کوونکي وي:** هغه عرف قابل د اعتبار وړ دی چي د عمل او فیصلې په وخت کي شتون ولري او هم مسلط او حکم کوونکي وي.

**و – د عرف پر خلاف باید صریح توافق صورت نه وي نیولی:** عرف ضمني، مګر صریح توافق اساسي شرط دی، که د عقد طرفین د عرف پر خلاف توافق کړي وي نو عرف خپل ارزښت له لاسه ورکوي. فقهي قاعده داسې صراحت لري: "لَاعِبْرَةَ بِالْدَلَالَةِ فِي مَقَابِلِ التّصْرِيحْ" (هماغه مجلة الاحكام العدليه، ۱۳ ماده). ژباړه: ضمني شرط او دلالت د صراحت په شتون کي اعتبار نه لري.

**ز – عرف باید د عامه ذهنیت څخه منشاء اخیستي وي:** عرف باید د اکثریت خلکو ذهنیت منلی وي او خلک ورته احترام ولري؛ که نه نو شرعاً اعتبار نه لري. لکه: په هوټلونو کي واده کول، دحج په وخت کي تحایف ویشل او نور.

**ک – عرف باید په مسلسل او مستمر ډول تکرار سوی وي:** عرف باید په دوامداره تکرار سوی وي او انقطاع نه وي په کي راغلي(هماغه واثق درانی، ۲۰۸ – ۲۱۱ مخونه).

**۴- د عرف ډولونه**

عرف له بېلا بېلو اړخونو پر مختلفو ډولونو وېشل سوي دي، چي څیني یې عبارت دي له:

**لومړي – د قول او فعل له حیثه**

۱- قولي عرف: کله چي د خلکو تر منځ یو لفظ چي باید په حقیقي معنی استعمال سي، بر عکس په مجازي معنی استعمالیږي او د خلکو تر منځ مشهوریږي، نو قولي عرف ورته ویل کیږي. مثلاً: د ولد اطلاق پر زوي کول او په انجلۍ نه کول، حال دا چي په حقیقت کي د ولد اطلاق پر زوي او لور دواړو کیږي(مسرور، بي تا. ۹۰ مخ).

۲- فعلي عرف: هغه دی چي خلک د کړنو په توګه ور سره عادت سوي وي. مثلاً؛ که شخص حمام ته لاړ سي نو د اوبو اندازې د استعمال پوښتنه نه کوي، ځکه هلته دا عرف وي چي ټول یو اندازه پیسې ورکوي(هماغه ظهیر، ۴۱ مخ).

**دوهم – د عموم او خصوص له حیثه**

۱- عام عرف : هغه دی چي د یوې سیمې اکثریت خلک عمل په کوي. مثلاً؛ مېلمه پالنه، د لنګوټې تړل او داسې نور(هماغه مسرور، ۹۰ مخ).

۲- خاص عرف: هغه دی چي د ځانګړو ډلو تر منځ رواج وي(هماغه، ۹۰ مخ). مثلاً؛: د شمالي ولایتونو خلک په ژمي کي بالاپوش استعمالوي، د پکتیا خلک پټکی/لنګوټې ته جوغه ورکوي، د کندهار خلک بیا خامکي غاړې جوړوي.

**دریم – د صحت او فساد له حیثه**

۱- صحیح عرف: هغه دی د اسلامي شریعت موافق وي او حلال حرام یا حرام حلال نه کړي. مثلاً؛ د استصناع په عقد کي د پیشکي پیسو ورکړه چي د خلکو د اړتیاوو له امله جایز سوي دي.

۲-فاسد عرف: هغه دی د اسلامي شریعت مخالف وي او حلال حرام یا حرام حلال کړي. مثلاً؛ سودي معاملات، په ودونو کي نڅاوې کول او سازونه غږول، وریښمني جامې اغوستل، په بدو کي د ښځو ورکول، له میراث څخه د ښځو محروموول او داسې نور (هماغه مسرور، ۸۹ مخ).

**څلورم – د ثبات او تغير له حيثه**

۱- ثابت عرف: هغه دی چې د زمان، مکان، اشخاصو او احوالو پر بنسټ د تغیر وړ نه وي؛ ځکه چې د انسان په طبیعت او عادت پورې اړه لري او د تغیر وړ نه دي. مثلاً؛ له خوراک او څښاک څخه خوند اخیستل، په غم کي شرعي خفګان کول او په واده کي شرعي خوشحالي کول.

۲- متغیر عرف: هغه دی چې د زمان، مکان، اشخاصو او احوالو پر بنسټ د تغیر وړ وي. مثلاً؛ په مالیزیا هیواد کي که څوک ښه کار وکړي نو خلک یې د ملا (شا) په ورستنۍ برخه کي په لاس وهي او شاباس ور ته وایي، مګر که دغه کار زموږ په هیواد کي څوک وکړي، ممکن د شخړې لامل سي (هماغه الکوزي او شمس صافي، ۱۷ –۱۸ مخونه).

**ج: د عرف مشروعيت**

د لاندي دلایلو په اساس عرف د اسلامي شریعت له شرعي دلایلو څخه دي:

**۱ – قرآن کریم:** په قران کریم کي د عرف د مشروعیت او پر هغه د استناد زیات دلایل شته. لکه: الله ﷻ فرمائي: "خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ" (الاعراف: ۱۹۹). ژباړه: عفوه وکړه او په نیکیو سره امر وکړه او ډډه وکړه له جاهلانو څخه. په دې آیت کریمه کي الله ﷻ و رسول الله ﷺ ته فرمایي: چې خلکو ته په عرف ښودنه کوه. دلته له عرف څخه موخه د هغه لغوي معنی ده چې د نیک امر څخه عبارت ده، نو له دې څخه معلومه سوه چې نیک او مشروع عرف په اسلام کي معتبر دی او راجح دی. همداراز، بل ځای الله ﷻ فرمائي: "وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ" (البقره: ۲۳۳). ژباړه: مورګاني به خپلو او لادونو ته پوره دوه کاله شیدې ورکوي، که دوی وغواړي چې د شیدو ورکولو موده بشپړه کړي او پر هغه چا چې اولاد د هغه لپاره زیږول سوی دی، د دې ښځي نفقه او لباس په معروفه (نیکه طریقه) سره واجب دی په پورتني ایات کي د معروف څخه موخه خوراک او لباس په هغه طریقه باید وي، چې د عرف مطابق وي، یعني کومه طریقه چې په عرف کي ده، نو په هغه طریقه دې خوراک ورکول سي او په همدې باید مجبور سي.

**۲ – نبوي آحادیث:** کله چې به رسول الله ﷺ ته یوه موضوع راغله، نو که به یې په عرف کي حل موجود وو، نو و هغه ته به حواله کاوه او د هغې حل او فصل به یې په عرف کاوه او پوښتونکي ته به یې قناعت ورکاوه. "عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ هِنْدَ بِنْتَ عُتْبَةَ قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ أَبَا سُفْيَانَ رَجُلٌ شَحِيحٌ وَلَيْسَ يُعْطِينِي مَا يَكْفِينِي وَوَلَدِي إِلاَّ مَا أَخَذْتُ مِنْهُ وَهُوَ لاَ يَعْلَمُ فَقَالَ خُذِي مَا يَكْفِيكِ وَوَلَدَكِ بِالْمَعْرُوفِ" (الصحيح البخاري، ۱۴۰۷هق. حديث ۵۳۶۴). ژباړه: له بي بي عائشې صدیقې رضي الله عنها څخه روایت دی چې هند دعتبه لور ته راغله او ورته و یې ویل ای د الله ﷻ رسوله! په تحقق سره ابوسفیان سخت (کنجوس) سړي دی، هغه ما ته دومره خه (نفقه) نه راکوي چې زما او زما د زوی لپاره بسنه وکړي، مګر زه د هغه څخه یو شي (په پټه) اخلم او هغه نه په پوهیږي، نو رَسُولُ اللَّهِ ﷺ ورته وفرمایل: دومره

ځني واخله چې ستا او ستا د زوی لپاره بسنه وکړي، په نیکه وجه. په پورتني احادیث کې: د معروف څخه مقصد هغه اندازه هدف ده چې دعرف پراساس کفایت کوي. همداراز: د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه آثر دی: "ما رآه المسلمون حسناً فهو عندالله حسن، و ما رآه المسلمون سيئاً فهو عندالله سيئ" (مسند الامام أحمد، بې تا. ۱ جلد، حديث ۳۵۸۵). ژباړه: څه چې د مسلمانانو په نزد نیک او ښه وي هغه د الله ﷻ په نزد نیکه او ښه دي او څه چې د مسلمانانو په نزد بد او ناوړه وي هغه د الله ﷻ په نزد بد او ناوړه دي.

**۳ – عقل:** د خلکو خوی او عادت په یو امر له چارو دلالت کوي چې هغه کار په مصلحت یا د رفع حرج له خلکو څخه دی او په دې که شک نه شته چې د مصلحت جلب او د مشقت دفع کول د اسلامي شریعت له ډېرو مهمو موخو څخه دی. له بل لوري د خلکو د مصالحو تأمین او پوره کول د خلکو د کلي عاداتو په اعتبار ورکولو پورې تړاو لري چې اسلامي شریعت ورته زیات ارزښت ورکړی دی، د هغه رعایت یې کړی، په هغه ځای کې چې نص وي عرف اعتبار نه لري؛ خو کله چې نص او عرف یو د بل سره په تعارض/ټکر کې واقع سي، نو نص ته اعتبار ورکول کیږي. (فایق، ۱۳۹۹ل. ۳۱۴ مخ).

## د: د عرف حکم

د عرف حکم په اسلامي شریعت کې په لاندې ډول دی:

۱- که عرف په کُلي یا اکثري توګه د اسلامي شریعت خلاف وو، نو اعتبار نه لري. لکه شراب، قمار او نور. د کومو چې حرمت په نصوصو ثابت دی. مګر که عرف په ځینو ځایونو کې د شریعت مخالف وي یا دلیل قیاس وي، نو که عرف عام وي اعتبار ورکول کیږي. لکه بیع معاطاة، بیع الاستصناع او نور. خلاصه دا چې د خاص په نسبت عام عرف معتبر دی. فقهي قاعده داسې صراحت لري: "لامساغ اللاجتهاد فی مورد النص" (هماغه مجلة الاحکام العدلیة، ۱۴ ماده) ژباړه: که نص شتون ولري، نو اجتهاد ته اعتبار نه ورکول کیږي.

۲- که عرف د فقهي قواعدو مخالف سي او شرعي نص شتون و نه لري، بلکي حکم په اجتهاد ثابت سوی وي، نو په دې صورت کې به مجتهد د عادت او زمان په اساس حکم کوي، که د مجتهد نظر د عاداتو مخالف وي؛ نو باید خپل نظر پرېږدي او د عرف مطابق حکم وکړي. مثلاً: د فقهې او قران کریم په تعلیم، آذان او امامت پخوا اجوره اخیستل جائز نه وو؛ مګر نن ورځ عرف تغیر کړی او اجوره اخیستل جایز سوي دي (هماغه الکوزي او شمس صافي، ۲۲ – ۲۳ مخونه).

## هـ: د شرعي احکامو په تغیر کې د عرف رول

دا برخه هغه انعطاف او تغیر روښانه کوي چې اسلامي شریعت یې د مشروع عرف په پام کې نیولو سره زغمې. دلته دا څرګندوي چې څنګه عرف که له شریعت سره ټکر و نه لري، کولای سي د فقهي احکامو په تطبیق او انشأ کې رول ولوبوي. څو دا روښانه سي چې اسلامي شریعت د خلکو په مشروع عرفونو اعتماد کوي چې د عصر غوښتني ځواب سي. علامه شامي رحمه الله وایي: " والعُرْفُ في الشرعِ لهُ اعتِبارُ -لذا عليهِ الحكمُ قد يُدارُ"(هماغه الشامي، ۲ جلد، ۱۱۴ مخ). ژباړه: عرف لره په شرع کې اعتبار شته، ځکه کله ناکله حکم په هغه پورې تړل کیږي. همداراز، قرافي رحمه الله وایي: "كلُّ ما هو في الشَّريعةِ يَتْبَعُ العَوائِدَ، يَتَغَيَّرُ فيه عِندَ تَغَيُّرِ العادَةِ إلى ما تَقْتَضيهِ العادَةُ

المُسْتَجِدَّةُ"(القرافي، بې تا. ۱۱۱ مخ). ژباړه: هر هغه حکم چې په شريعت کې د دودونو او عادتونو تابع وي، د عادت د بدلون په وخت کې د نوي دود د غوښتنې مطابق بدلون په کې راځي. په هر صورت؛ کوم څه چې د خلکو عرف ګرځېدلي وي، نو د اسلامي شريعت د احکامو د تغير او نه تغير له نظره پر لاندې درې برخو وېشل سوي دي:

**۱- هغه عرف چې په خپله د شريعت حکم هم وي يا شريعت را پيدا کړي وي.** لکه: لمونځ، روژه، زکات، حج او يا هم په خلکو کې له پخوا څخه شتون ولري او شريعت تائيد کړي وي. لکه: د کعبې طواف، ديت او نور. دا ډول عرف د خلکو په پرېښودلو او د هغه پر خلاف د بل عرف په دودولو سره نه بدلېږي او د عرف له دروازې څخه بدلون نه په کې راځي؛ ځکه د دې عرف د منځته راوړلو او پاته کېدلو لامل خپله شريعت دی، نه عرف. نو د حکم اساس او بنسټ د عرف له بدلون سره سره بيا هم ثابت دی، نو حکم هم ثابت او پر خپل ځای پاتې دی. مثلاً: که په خلکو کې دا عرف دود سي، چې لمنځونه نه کوي، روژې نه نيسي يا په بله کومه ناروا چاره روږد سي(هماغه ظريفي، ۱۷۵ مخ). لکه: سودي کاروبار. الله ﷻ فرمائي: "وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا ..." (البقره: ۲۷۵). ژباړه: الله ﷻ بيعه حلاله اوجايز کړې، مګر سود او ربا يې حرامه کړې ده. همداراز، بل ځای فرمايي: "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ..." (النساء: ۲۹). ژباړه: ای مؤمنانو! تاسو په خپلو منځونو کې يو د بل مالونه په ناحقه سره مه خورئ. يا د بدل/ موخې يا شغار نکاح په هکله رسول الله ﷺ فرمايي: "لاَ شِغَارَ فِي الإِسْلاَمِ" ( هماغه البيهقي، ۷ جلد، ۲۰۰ مخ). ژباړه: د بدل نکاح په اسلام کې شتون نه لري، د دې ترڅنګ په بدو کې د ښځو ورکولو په هکله الله ﷻ فرمائي: "وَلاَ تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ"(البقره: ۱۴۱). ژباړه : د دوی د اعمالو په هکله ستاسو څخه پوښتنه نه کېږي. بل ځای فرمايي: "وَلاَ تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ..."(الاسراء: ۱۵). ژباړه : هېڅوک د بل چا په بار نه بارېږي. له دې عرف سره حکم نه تغيرېږي، بلکې پر خلکو لازمه ده چې خپل دغه ناوړه عرف پرېږدي او د اسلامي شريعت احکام پلي کړي.

**۲- هغه عرف، چې په خپله د شريعت حکم نه وي، خو د حکم لپاره يې اساس وي او د شريعت حکم ور پورې تړلی وي.** لکه: په مختلفو ژبو کې له الفاظو څخه د معناوو د اخيستلو عرف او عادت، قسم په کومو الفاظو کېږي؟، راکړې ورکړې په کومو الفاظو سرته رسېږي؟، عقدونه په کمو الفاظو منعقد کېږي؟، يا دا چې کومې چارې دي چې د انسان مروت او درنښت له منځه وړي او بيا يې شاهدي نه قبلېږي؟، يا دا چې د ښځو مهرونه تر واده مخکې او که وروسته ورکول کېږي؟، يا دا چې په راکړه ورکړه کې قبض په کومه چاره سرته رسېږي؟ او نور ټولې هغه چارې چې شرعي احکام نه دي، خو د شريعت احکام ور پورې تړلي دي. نو په دې ټولو حالاتو کې د عرف په تغير سره احکام هم تغيرېږي. دلته کړني او الفاظ د شريعت احکام نه دي، خو د شريعت د احکامو د تغير بنسټ تشکيلوي، ځکه د "الْعَادَةُ مُحكمةٌ" فقهي قاعدې څخه موخه همدا عرف دي چې پرېکړه کوونکي بلل کېږي(هماغه ظريفي، ۱۷۵ مخ).

**۳- هغه عرف، چې نه خپله د شريعت حکم وي او نه هم د شريعت حکم ور پورې تړلی وي.** لکه: مباح چارې، د خوراک، څښاک اوسېدلو او ژوند اړوند مختلفو چارو کې چې په دې هکله خلکو ته خپلواکي ورکول سوې ده چې په خپلو پخوانيو عرف پاتې کېږي او که يا عرف او عادت ته بدلون ورکوي. مثلاً: يو څوک په څمکه بيدېږي،

بل څوک بیا پر کټ بیدیږي. یو څوک پر ځمکه ډوډۍ خوري، خو بل یې بیا پر مېزونو باندې خوري. بناءً په دې ډول عرف پورې شرعي حکم تړلی نه دی؛ نو په تغیر سره یې شرعي حکم هم نه تغیرېږي(البوطي، بې تا. ۲۸۲ – ۲۸۴ مخونه).

### و: د عرف اړوند فقهي قاعدې او تطبیقات

په دې برخه کې د هغو فقهي اصولو او قواعدو څېړنه سوې ده چې د عرف پر اساس د حکم صادرولو بنسټ جوړوي. دا قواعد نه یوازې علمي ارزښت لري، بلکې د فتوی، تقنین او قضا په ساحو کې هم زوړ تطبیق لري چې دا د اسلامي شریعت پر کامل والي او هر اړخیزوالي یو بل ستر دلیل دی.

۱- "**اَلْعَادَةُ مُحكمةٌ**". ژباړه: عادت د حکم د اثبات لپاره دلیل دی. یعني عادت عام وي، که خاص چې د شرعي نصوصو خلاف نه وي، نو د حکم د اثبات لپاره مرجع کېدای سي(هماغه مجلة الاحکام العدلیة، ۳۷ ماده). مثلاً: که یوکس خپل زوی له یو کاسب سره شاگرد کړي، خو د اُجرت شرط یو پر بل کینږدي، نو که کسب تر زده کړې وروسته یو له بل څخه د اُجرت غوښتنه وکړي، په دې صورت کې عرف ته رجوع کېږي. د دې ترڅنگ؛ که یوکس شیدې ورکوونکې ښځه په اجاره ونیسي، نو د هغې د اجرت په هکله عرف ته رجوع کېږي (هماغه تائب، ۸۷ مخ).

۲- "**اِسْتِعْمَالُ النَّاسِ يَجِبُ الْعَمَّلُ بِهَا**". ژباړه: د خلکو عادت چې د شرعي نصوصو مخالف نه وي، د عمل د وجول لپاره دلیل دی. یعني هغه څه چې خلک په دوامداره ډول عمل ور باندې کوي، که د شریعت خلاف نه وي، نو یاد عمل جائز او واجل العمل دی(هماغه، ۳۷ ماده). مثلاً: که یو کس نجار ته و وایي چې زما لپاره یو کلکین جوړ کړه او یوه اندازه پیسې پېشکي (آډوانس) ورکړي، نو دا بیع الاستصناع ده او د خلکو پر عاداتو بناء ده. همداراز، که یو کس قسم واخلي چې زه کور ته نه داخلیږم، خو بیا و مسجد، پوهنتون، مدرسې او یا دوکان ته داخل سو، نو حانث نه دئ، ځکه عرفاً کور هغه ځای چې چې ورځنۍ ژوند پکښې کېږي. د دې ترڅنگ که یو کس چا ته په پتنوس یا دستمال کې ډالۍ/ شېریني ورکړي، نو دا چې ایا پتنوس یا دسمتال هم د هغه دئ او که نه؟ عرف ته رجوع کېږي (هماغه تائب، ۸۸ مخ).

۳- "**اَلْمُمّتَنِعُ عَادَتُ كَالْمُمّتَنِعُ حَقِيقَةٌ**". ژباړه: هغه څه چې په عادت کې منع وي، داسې دي لکه په حقیقت کې چې منع وي(هماغه مجلة الاحکام العدلیة، ۳۸ ماده). مثلاً: یو کس خیرات ټولوي او ټولو خلکو ته معلوم دی چې فقیر دی، خو دغه فقیر پر یو چا داسې دعوی کوي چې د ده له حالت سره هېڅ اړخ نه لگوي. لکه: و وایي چې زما پر فلاني باندې (۱۰۰۰۰۰) ډالر قرض دی یا یې یو لوی کور را څخه غصب کړی دی. نو دلته دغه دعوی عادتاً غیرمحتمل الثبوت ده او نه اورېدل کېږي. همداراز؛ که یوکس د گاونډي د کور یا ځمکې د خرڅ اوازه واوري، خو ساکت سي، نو وروسته عرفاً د شفعې له حق څخه محرومېږي. د دې ترڅنگ؛ که یو شل کلن کس و وایي چې هغه فلان دېرش کلن کس زما زوی دی، نو دغه دعوی عادتاً غیر محتمل الثبوت ده او نه اورېدل کېږي (هماغه تائب، ۹۲ –۹۳ مخونه).

۴- "**لَايُنكِرُ تَغيرُ الْاَحكَامِ بِتَغِيرِ الازمَانْ**". ژباړه: د زماني په تغیر د احکامو له تغیر څخه انکار نه سي کېدای(هماغه مجلة الاحکام العدلیة، ۳۹ ماده). مثلاً: پخوا د ټولو کورونو جوړښت یو ډول وو، نو په هغه زمانه کې به فقهاوو ویل

چي ديوه کور ليدل د نورو کورونو د رؤيت خيارساقطوي، مګر اوس زماني بدلون کړی او د کورونو ساختمانونه هم تغير سوي دي، نو په دې مورد کي فتوی هم تغيره سوې او د هر کور د رؤيت خيار و مشتري ته ثابت دی. همداراز؛ پخوا فتوی دا وه چي د مساجدو د دروازو تړل جائز نه دي، خو اوس زمانه تغير سوې او د لمانځه د وخت پرته په نورو وختونو کي د مسجد دروازه تړل جائز دي. لکه: د غلا او نورو مفاسدو له امله (هماغه تائب، ۹۴ –۹۵ مخونه).

۵- **"اَلْحَقِيقَةُ تُتْرَكُ بِدَّلالَةِ الْعَادَةِ"**. ژباړه: د عرف په اساس حقيقت ترک کيږي(هماغه مجلة الاحکام العدلية، ۴۱ ماده). مثلاً: که يو کس قسم واخلي چي له فلانۍ ونې څخه خوراک نه کوم، دلته لفظي/لغوي معنی د يادې ونې (ښاخونه، پاڼې او پوستکی) دی، مګر مجازي يا عرفي معنی يې د نوموړې ونې (مېوه) ده، که يې پاڼې، ښاونه او پوستکی) وخوري، نو نا حانثيږي، مګر که يې مېوه وخوړه، نو حانث دی. همداراز؛ که بادار غلام ته ووايي چي پانوس(شمع دانۍ) ولګوه او غلام راولاړ سي او شمع دانۍ ته اور واچوي، نو ضامن دئ، ځکه د دې لفظ مجازي/عرفي معنی د شمع بلول دئ (هماغه تائب، ۹۳ –۹۴ مخونه).

٦- **"اِنَّمَا تُعْتَبَرُ الْعَادَةُ اِذَّطَرّدَت او غَلَّبت"**. ژباړه: هغه عرف معتبر دی چي شائع او غالب وي(هماغه مجلة الاحکام العدلية، ۴۱ ماده). مثلاً: که خياط ته د کاليو ګنډلو او کاتب ته د کتابت مزد ورکول سي، نو غالب او عام عرف دا دی چي ستن، تار، قلم او کاغذ پر خياط او کاتب باندي دي. همداراز؛ که يو کس (۲۰) کاله مخکي يو جنس په (۳۰۰۰) خرڅ کړی وي، خو پولي واحد يې مشخص/ذکر کړی نه وي او اوس دعوی وکړي، نو دلته د ده حق د عرف په اساس هغه (۲۰) کاله مخکي (۳۰۰۰) دي، نه د معاصر/اوسني وخت (۳۰۰۰) (هماغه تائب، ۸۹ – ۹۰ مخونه).

۷- **"اَلعِبرَةُ لِلغَالِبِ الشائِعِ لا لِلّنَادِرْ"**. ژباړه: د نادر په نسبت شائع عرف معتبر دی(هماغه مجلة الاحکام العدلية، ۴۲ ماده). مثلاً: که يو شخص تر (۹۰) کلونو پورې مفقود سي، نو د غالب عرف پر بناء مړ دی، مګر په نادره توګه داسې وي چي څوک تر (۹۰) کلونو زيات عمر ولري، نو دلته نادر اعتبار نه لري. همداراز، د غالب او شائع عرف په اساس نارينه په (۱۵) کلنی کي بلوغ ته رسيږي، خو په نادره توګه داسي وي چي څوک په (۲۰) کلنی کي بلوغ ته رسيږي، نو دلته نادر اعتبار نه لري (هماغه تائب، ۹۰ – ۹۱ مخونه).

۸- **"اَلّمَعرُوفِ عُرّفاً كَّالمَشْرُوطِ شَّرطاً"**. ژباړه: معتاد عرف داسې دی لکه شرط د مشروط لپاره(هماغه مجلة الاحکام العدلية، ۴۳ ماده). مثلاً: که يو کس د بل کس ځمکه پرته له اجارې وکري او حاصل يې واخلي، نو د ځمکي د خاوند لپاره اجوره ثابته ده، ځکه په عرف کي د بل چا ځمکه بغير د اجورې نه سي استعمالېدای. همداراز، که يو کس له نانوای څخه ډوډۍ رانيسي، خو ډوډۍ په تناره کي وي، نو د عرف په اساس نانوای به يې له تناره څخه را باسي. د دې ترڅنګ؛ پر حمال (باروړنکی) باندي د عرف په اساس لازمه ده چي محمول (بار) د کور لومړنۍ دروازې ته ور دننه کړي (هماغه تائب، ۹۱ – ۹۲ مخونه).

۹- **"اَلّمَعرُوفِ بَيّنَ التِجَارِ كَّالمَّشرُوطِ بَينَهمُ"**. ژباړه: د تجاراتو ترمنځ عرف داسې دی لکه شرط چي وي(هماغه مجلة الاحکام العدلية، ۴۴ ماده). مثلاً: که څوک په ښار کي په يو معلوم قيمت يو جنس واخلي ، خو د معجل والي او مؤجل والي په هکله يې تصريح نه وي کړي، خو د تجارانو ترمنځ دا عرف وي چي هره جمعه يا هره مياشت ټول

یا یوه برخه حسابونه راټولوي، نو په همدې ډول مشتري باید یاد قیمت ورته تأدیه کړي، ځکه دا د تجارانو ترمنځ متعارف کار دی. همداراز؛ په تجارت کې پانگه/سرمایه یوازې نقود/نغدې وي، خو که په عرف کې طلاء او نقره سرمایه وگڼل سي، نو بیا په عرف عمل کېږي (هماغه تائب، ۹۲ مخ).

۱۰- "**اَلتَعِینُ بِالّعُرفِ کَالتَعِینُ بِالنَّص**". ژباړه: کله چې یو شی په عرف تعین سي، داسې دی لکه په نص چې ټاکل سوی وي(هماغه مجلة الاحکام العدلیة، ۴۵ ماده). مثلاً: که یو کس بل ته خپل نقلیه واسطه په عاریت ورکړي، نو مستعیر اجازه نه لري چې پر هغه غیر معتاد شی حمل کړي یا زیات مزل پرې وکړي چې په عرف کې موجود نه وي، که یې تر عرف په زیاته اندازه مزل پرې وکړی یا یې غیر معتاد شی پر بار کړی، نو ضامن دی. همداراز، که یو کس خپل دوکان چا ته په اجاره ورکړي، نو مستأجر هر اړخیزه استفاده ځني کولای سي، مگر آهنگر، دوبي، ژرندي والا ... ته یې د مؤجر له اجازې پرته په کرایه نه سي ورکولای (هماغه تائب، ۸۸ – ۸۹ مخونه).

## بحث او مناقشه

د دې لیکني بنسټیزه موخه د عرف د شرعي دلیل په حیث پېژندل، د هغه شرعي حیثیت روښانه کول، او دا څرگندول وو چې عرف د اسلامي فقهي او د احکامو د استنباط په نظام کې مهم او اغېزمن مقام لري. د څېړني موندنو څرگنده کړه چې عرف نه یوازې د خلکو د ورځنیو تعاملاتو، معاملو او ټولنیزو اړیکو د تنظیم لپاره مهم دی، بلکې د فقهي احکامو په تطبیق، تفسیر او تغیر کې هم اساسي رول لري. څېړني وښودله چې اسلامي شریعت د هغو عرفونو ملاتړ کوي چې د قرآن کریم، نبوي سنتو، عقل او د شریعت له مقاصدو سره په ټکر کې نه وي، او همدغه اصل د عرف د شرعي اعتبار بنسټ جوړوي.

د څېړني د موخو او موندنو په هکله ویلای سو چې د دې مقالې اساسي هدف دا وو ترڅو د عرف مفهوم، د هغه اقسام، د اعتبار شرایط، او د اسلامي شریعت په رڼا کې د هغه فقهي او حقوقي ارزښت په علمي او تحلیلي ډول بیان کړي، او په پښتو ژبه کې هغه علمي تشه ډکه کړي چې د عرف د شرعي حیثیت په برخه کې موجوده وه. د موندنو تحلیلي ارزونه ښیي چې دا موخه په بریالیتوب سره تر لاسه سوې ده. د عرف او عادت ترمنځ توپیر، د مشروع او فاسد عرف پېژندنه، د فقهي قواعدو تحلیل، او د احکامو په تغیر کې د عرف د رول بیان ټول هغه موارد دي چې د څېړني اصلي پوښتنو ته واضح او مستند ځوابونه وړاندي کوي.

څېړني څرگنده کړه چې د عرف د اعتبار بنسټ د هغه مشروعیت، عموم، استمرار او د شرعي نصوصو سره د عدم مخالفت پر اصولو ولاړ دی. دا پایله د پخوانیو فقهي او اصولي آثارو له موندنو سره همغږي لري. امام شاطبي، الزرکشي، الغزالي او نورو اصولیینو عرف د شریعت د مقاصدو د تحقق او د خلکو د مصالحو د رعایت لپاره مهم اصل بللی دی. همداراز، فقهاوو د «العادة محکمة»، «المعروف عرفاً کالمشروط شرطاً» او «لا ینکر تغیر الأحکام بتغیر الزمان» په څېر قواعدو له لارې د عرف عملي او شرعي ارزښت روښانه کړی دی.

په همدې ډول، د معاصرو فقهي او حقوقي څېړنو پایلو هم څرگنده کړې چې عرف د اسلامي حقوقي نظام د انعطاف او عملیت مهم عنصر دی، او د ټولنیزو، اقتصادي او معاملاتي ستونزو د حل لپاره حیاتي ارزښت لري. د دې

مقالې موندني هم دا ټينګار کوي چې د شريعت د احکامو صحيح تطبيق هغه مهال ممکن دی چې د خلکو مشروع عرفونه او د زمان او مکان شرايط په پام کې ونيول سي.

همداراز، د دې څېړنې پايلې له پخوانيو عربي او فقهي اثارو سره په ډېرو برخو کې مطابقت لري. لکه: -د عرف د اعتبار شرايط د اصول فقه له مشهورو قواعدو سره بشپړ توافق لري . -څېړنه دا تائيدوي چې فاسد او غير مشروع عرف د شرعي اعتبار وړ نه دی، که څه هم د خلکو ترمنځ عام رواج ولري . -د احکامو په تغير کې د عرف رول هغه حقيقت دی چې کلاسيکو او معاصرو فقهاوو هم په خپلو آثارو کې بيان کړی دی .

خو دا څېړنه له پخوانيو اثارو سره په ځينو برخو کې توپير هم لري، او دا توپيرونه د معاصرو اړتياوو او ژبني خلا له امله رامنځته سوي دي. لکه: -په پښتو ژبه کې د عرف د شرعي حيثيت په اړه منظم او تحليلي علمي کار کم تر سترګو کېږي . -معاصر ټولنيز او حقوقي عرفونه، او د هغوی شرعي ارزونه په پخوانيو اثارو کې په دې پراخه بڼه نه ده څېړل سوې . -د افغاني ټولنې د عرفونو د شرعي تحليل اړخ ته په نوې او معاصره بڼه توجه سوې ده .

د دې ترڅنګ، څېړنه په څو برخو کې نوي علمي اضافه والي هم وړاندي کوي. لکه: -په پښتو ژبه کې د عرف د شرعي دليل په حيث يوه نسبتاً هراړخيزه او تحليلي علمي څېړنه ده . -د پخوانيو او معاصرو فقهي منابعو په رڼا کې د عرف عملي او حقوقي اړتياوې تحليلوي . -هغو معاصرو ستونزو ته اشاره کوي چې د عرف د ناسم فهم او تطبيق له امله رامنځته کيږي، لکه: د غير مشروع رواجونو دودېدل، د شرعي حدودو نه مراعت، او د عرف تر نامه لاندې د ناسمو ټولنيزو اعمالو توجيه .

په ټوله کې، څېړنه څرګندوي چې عرف د اسلامي شريعت د فرعي دلايلو له مهمو سرچينو څخه دی، چې د اسلامي فقهې د انعطاف، عمليت او ټولنيز تطبيق په برخه کې حياتي رول لري. همداراز، د عرف د صحيح پېژندني نشتون د دې سبب ګرځي چې يا خو مشروع عرفونه له پامه وغورځول سي او يا هم غير مشروع رواجونه د عرف تر نامه لاندې توجيه کړل سي. له همدې امله، د عرف د شرعي حدودو، د اعتبار د شرايطو او د هغه د فقهي ارزښت په اړه علمي پوهاوی، تدريس او څېړنه د اوسني وخت يوه مهمه اړتيا ګڼل کيږي.

## پايله

د پورته څېړني په رڼا کې دې پايلې ته رسېږو؛ عرف د هغو غير مدونو قواعدو، رواجونو او تعاملاتو مجموعه ده چې انسانانو په خپله خوښه رامنځته کړې، په دوامداره ډول يې تکرار کړي او د يوې ټولنيزې او حقوقي قاعدې په توګه يې پر ځانونو تطبيق لازم ګڼلی وي. انسانانو له پخوا زمانو راهيسې په خپلو معاملو، اړيکو او ورځنيو چارو کې د عرف او عاداتو پر بنسټ فيصلې کولې، او د انساني ټولنې له پيدايښت سره سم عرف او عادات هم رامنځته سوي دي. کله چې اسلامي شريعت نازل سو، نو ټول هغه عرفونه او عادات چې د عقل، عدالت او د شريعت د اصولو مخالف ول، له منځه يوووړل؛ لکه ظلم، سود، شغار، بدې او نور ناروا رواجونه، او هغه عرفونه چې د شريعت له مقاصدو او انساني مصالحو سره موافق ول، اصلاح او تأييد يې کړل او د تطبيق امر يې وکړ. الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي: خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ (الأعراف: ۱۹۹). ژباړه: عفوه اختيار کړه، په نيکيو او عرف سره امر وکړه او له جاهلانو څخه مخ واړوه.

د اسلامي شریعت له مهمو موخو څخه یوه په ټولنه کې د نظم، عدالت، امنیت او سالمو اړیکو تأمین دی، او عرف په دې برخه کې مهم رول لري. ځکه عرف د خلکو د ژوند، تعاملاتو او معاملو له واقعي اړتیاوو سره مستقیم تړاو لري. له همدې امله اسلامي شریعت عرف د خپلو فرعي دلایلو له جملې څخه بللی او په هغو چارو کې چې صریح شرعي نص نه وي موجود، د عرف رعایت یې معتبر اصل ګرځولی دی.

همداراز، دا هم څرګنده سوه چې عرف د فقهي احکامو په استنباط، تطبیق او تغیر کې بنسټیزه ونډه لري، او د زمان، مکان او حالاتو په بدلېدو سره ځینې اجتهادي احکام هم د عرف په تغیر سره تغیر مومي. فقهاوو د همدې اهمیت له امله د عرف اړوند ګڼ شمېر فقهي قواعد وضع کړي دي، چې په اسلامي فقه کې ځانګړی مقام لري. لکه: «اَلْعَادَةُ مُحَكَّمَةٌ»، «اِسْتِعْمَالُ النَّاسِ يَجِبُ الْعَمَلُ بِهَا»، «لَا يُنْكَرُ تَغَيُّرُ الْأَحْكَامِ بِتَغَيُّرِ الْأَزْمَانِ»، «اَلْمَعْرُوفُ عُرْفًا كَالْمَشْرُوطِ شَرْطًا»، «اَلتَّعْيِينُ بِالْعُرْفِ كَالتَّعْيِينِ بِالنَّصِّ» او نور. دا قواعد د دې څرګندونه کوي چې عرف د اسلامي شریعت په فقهي نظام کې یو معتبر اصل ګڼل کیږي او د خلکو د مصالحو، اسانتیا او د ټولنیز نظم د ساتنې لپاره مهم رول ادا کوي.

په ټوله کې ویلای سو چې اسلامي شریعت، سره له دې چې یو کامل او شامل الهي نظام دی، بیا هم د خلکو مشروع عرفونه او عادات په رسمیت پېژني او د شرعي شرایطو د پوره والي په صورت کې یې اعتبار ورکوي، ترڅو د شریعت مقاصد په ښه توګه تحقق ومومي او د خلکو د ژوند ستونزې په اسانه او عادلانه ډول حل سي.

## وړاندیزونه

د ترسره سوې څېړنې په رڼا کې، لاندې سپارښتنې کیږي:

۱-مقنین د تقنین پر مهال، قاضي د حکم کولو پر مهال او مفتي د فتوی ورکولو پر مهال باید د ټولنې مشروع عرف او ارزښتونه په پام کې ونیسي، ترڅو قانون د تطبیق پر مهال د خنډ او غبرګون سره مخ نه سي.

۲-دولت باید دټولنې د پوهې او باسیوادي دکچې د لوړوالي لپاره لازم تدابیر ونیسي، ترڅو خلک د مشروع او غیر مشروع عرفونو په توپیر او دغیر مشروع عرفونو په زیانونو پوه سي او د هغوی په له منځه وړلو کې ونډه واخلي.

۳-علماء، استادان، مؤسیسات او نور بنسټونه باید د ټولنې د ناوړه او غیر مشروع عرف په هکله د منبرونو، مقالو او سیمینارونو له لارې د ټولنې خلکو ته عامه پوهاوي ورکړي.

۴-محصلین او استادان باید د افغاني ټولنې د عرف د ماهیت اړوند څېړنې وکړي.

## اخځلیکونه

القرآن الكريم.

– البخاري، محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة البخاري أبو عبد الله. (۱۴۰۷هـق) .الجامع الصحيح البخاري .القاهرة: دار الشعب.

– البيهقي، أحمد بن الحسين بن علي بن موسى (بې تا). السنن الكبرى، بيروت: دار الفكر.

– الشيباني، أحمد بن محمد بن حنبل (۲۰۰۱م). مسند الإمام أحمد بن حنبل، تحقيق: شعيب الأرناؤوط وآخرون. بيروت: مؤسسة الرسالة.

- الزحيلي، وهبة (بې تا). الفقه الإسلامي وأدلته، پیښور: مكتبة رشيدية.
- الفتوحي ابن النجار ، محمد بن أحمد. (۱۴۱۸هـق) .شرح الكوكب المنير .تحقيق: محمد الزحيلي ونزيه حماد. الرياض: مكتبة العبيكان.
- ابن نجيم، زين الدين بن إبراهيم. (۱۴۱۴هـق) .الأشباه والنظائر .بيروت: دار الكتب العلمية.
- ابن منظور، محمد بن مكرم بن علي الأنصاري الإفريقي. (۱۴۱۴هـق) .لسان العرب (ط ۳). بيروت: دار صادر.
- احمد محمد الطاهر. (بې تا) .الدروس في أصول الإفتاء وآدابه .شونی مکتبه، سرکی روډ –کوئټه.
- البوطي، محمد سعيد رمضان. (بې تا) .ضوابط المصلحة في الشريعة الإسلامية (الطبعة الرابعة). بيروت: مؤسسة الرسالة.
- الشامي، أحمد بن عبد الكريم (بې تا). مجموعة الرسائل، بيروت: دار الفكر.
- الظريفي، شېرعلي (۱۳۹۰ل). د نوښتونو په هکله د شرعي احکامو بدلون، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.
- الظهير، عبدالظاهر (۱۴۴۰هـق). أصول الإفتاء وآدابه، باډر –افغانستان: مدرسة مظهر العلوم الحنفية.
- الفيروزآبادي، مجدالدين محمد بن يعقوب (۱۴۲۶هـق). القاموس المحيط، تحقيق: محمد نعيم العرقسوسي (ط ۸). بيروت: مؤسسة الرسالة.
- الکوزي، عبیدالرحمن، شمس صافي، او شمس الإسلام (۱۳۹۵ل). تعاملي حقوق، جلال آباد: مسلم خپرندویه ټولنه.
- قانت، فخرالدین (۱۳۹۵ل)، أصول فقه، جلال آباد: مسلم خپرندويه ټولنه.
- علي، حيدر (بې تا). شرح مجلة الأحكام العدلية، بيروت: دار الجيل.
- حقمل، محمد ایمل (۱۳۹۵ل) .معاصر حقوقي سیستمونه (۴ چاپ). جلال آباد: یار خپرندویه ټولنه.
- حکمت، سید عبدالحکیم (۱۳۹۳ل). مبادي حقوق (۲ چاپ). جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه.
- دانش، حفظ الله (۱۳۹۵ل). د جزا عمومي حقوق (لومړی ټوک). کابل: مستقبل خپرندویه ټولنه.
- دراني، احمدگل واثق (۱۳۹۵ل). د حقوقو بنستونه، جلال آباد: ماذیگر خپرندویه ټولنه.
- شمس، محمد ضیاء الحق (۱۳۹۴ل). معاصر حقوقي سیستمونه، کابل: حامد رسالت خپرندویه ټولنه.
- ستانګزی، نصرالله (۱۳۹۵ل). د حقوقو مبادي (ژ: رحماني، گل الرحمن). جلال آباد: گودر خپرندویه ټولنه.
- ستانګزی، نصرالله، او ملګري (۱۳۸۷ل). د حقوقي اصطلاحاتو قاموس، کابل پوهنتون:USAID .
- فایق، عبداللطیف (۱۳۹۹ل). د فقهي مبادي، (ژ: ذاکر، ذاکرالله). کابل: مستقبل خپرندویه ټولنه .

- مجلة الأحكام العدلية (۱۸۷۶م). مجلة الأحكام العدلية .استانبول: د عثماني خلافت رسمي مطبعه .
- مجمع اللغة العربية بالقاهرة (۱۴۲۵هـق). المعجم الوسيط (ط ۴)، القاهرة: مكتبة الشروق الدولية.
- مسرور، عبدالرحمن (بې تا). زيدة التحقيقات في أصول الإفتاء.

Islamic Emirate of Afghanistan

Ministry of Higher Education

Helmand University

# Leed Social Science Academic Journal

Volume:3 Issue: 1 Year:1405